**د متحده ایالاتو د مهاجرینو د قبولی پروګرام (USRAP) ارجاع په اړه د متحده ایالاتو پورې تړلو افغانانو لپاره معلومات**

**د ۲۰۲۰ کال د جنوري ۲۸**

تجدید شوی: د ۲۰۲۲ کال د دسامبر ۲۸

پاملرنه: د ۲۰۲۲ کال د جنوري ۳۱ نیټې، د امریکا په وخت د مازدیګر د ۵ بجو څخه مرعی الاجرا، د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت هغه بریښنالیکونه نه بررسي کوي کوم چې ( USRAPAfghanReferrals@state.gov ) ته لیږل کیږي. د خپل د ارجاع د پروسې په اړه د تازه معلوماتو لپاره د خپل راجع کونکي سره په تماس کې شي. که ستاسو په استازیتوب سپارل شوی د ارجاع اسناد بشپړ او قبول شوي وي، د متحده ایالاتو د مهاجرینو د قبولی پروګرام (**USRAP**)به د لاندې لارښوونو سره سم په مستقیم ډول د راتلونکو ګامونو په اړه تاسو سره اړیکه ونیسي.

د ۲۰۲۱ کال د اګست د ۲ نیټي څخه را پدېخوا، هغه افغان اتباع چې د متحده ایالاتو په حکومت پورې تړلي دي د متحده ایالاتو د مهاجرینو د قبولی پروګرام (**USRAP**)ته راجع کیدی شي که چیرې هغوی د لازم شرایط پوره کړي. **یو فرد نشي کولی په مستقیم ډول ځان د متحده ایالاتو د مهاجرینو د قبولی پروګرام (USRAP)ته راجع کړي او باید د متحده ایالاتو دولتي اداري، د متحده ایالاتو میشته غیردولتي موسسو، یا د متحده ایالاتو میشته رسنیو سازمان لخوا راجع شي** په دې شرط چې یاد فرد لازم شرایط پوره کړي.

که تاسو په دې باور یاست چې تاسو د P-2 پروګرام لپاره د شرایطو وړ یاست، تاسو باید د متحده ایالاتو حکومتي اداري، د متحده ایالاتو میشته غیر دولتي موسسو یا د متحده ایالاتو میشته رسنیو سازمان سره اړیکه ونیسئ چې تاسو ورسره دنده ترسره کړې وه او یادو ادارو **دغه جدول** چتمو کړئ او په یاد جدول کې د خپل ځان، کورنۍ و د هغې اداري په اړه چې تاسو یې کارمند وی او د دندې نیټې او نور لازم معلومات درج کړئ. دا د متحده ایالاتو دولتي اداري، د متحده ایالاتو میشته غیردولتي موسسو، یا د متحده ایالاتو میشته رسنیو سازمان مسؤلیت دی چې ستاسو د وړتیا شرایطو مرور کولو او تصدیق کولو وروسته، د موجودو پروسو په تعقیب کولو سره، تاسې د P-2 پروګرام ته راجع کړي.

که امکان ولري، تاسو باید د لاندې اسنادو کاپي خپل راجع کونکي ته هم چمتو کړئ:

- <u>د هویت د تثبیت اسناد</u>: پاسپورت؛ تذکره، د زیږون کارت
- <u>د اړیکو د تثبیت اسناد</u>: نکاح خط، طلاق خط، فوتي وثیقه، او/یا د زیږون سندونه
- <u>د وظیفي د تثبیت اسناد</u>: د دفتر د هویت کارت، د اداري د تاییدی سند

که تاسو اوس هم په افغانستان کې یاست یا نه یاست، د متحده ایالاتو دولتي اداره، په متحده ایالاتو کې میشته غیردولتي موسسه، یا په متحده ایالاتو کې میشته رسنۍ کولی شي تاسو ته د P-2 پروګرام ته راجع کړي. خو په عمومي ډول، د قضیې پروسس کول تر هغه وخته پورې به پیل نشي، تر هغه پورې چې تاسو د پروسس کولو وړ هیواد ته لاړ نشئ. په افغانستان، ایران، شمالي کوریا، سوریه او یمن کې د کیس پروسس (طی مراحل) ممکن نه دی. (یادونه: د متحده ایالاتو د مهاجرینو د قبولی پروګرام (**USRAP**) په امریکا او کانادا کې د مهاجرینو د کیس پروسه نه ترسره کوي. که تاسو د متحدینو د ښه راغلاست عملیاتو (Operation Allies Welcome) له لارې متحده ایالاتو ته د مشروط اقامت (Parole) په پروسه کې راغلي یاست، مهرباني وکړئ د معلوماتو لپاره د لاندې لینک څخه لیدنه وکړئ:( https://www.uscis.gov/humanitarian/information-for-afghans ).

*یادونه: که تاسو یو افغان یاست چې په کابل کې د متحده ایالاتو د سفارت امریکایی کارمند ته پیژندل شوی (آشنا) یاست او په افغانستان کې د احتمالي زیان سره مخ یاست یا ورسره مخ شوي یاست، تاسو کولی شئ د سفارت د P-1 په نوم د ارجاع پروګرام د شرایطو وړ یاست. په یاد ولرئ چې **تاسو نشو کولی خپل ځان په مستقیم ډول د P-1 پروګرام ته راجع کړئ**. د متحده ایالاتو یو حکومتي چاروکی چې د غوارې تاسو د P-1 پروګرام ته راجع کړي، باید تاسو سره یې په افغانستان کې پیژندګلوي درلوده او د P-1 پروګرام ته د راجع کولو دمخه باید د اړونده لوړ پوړي اجرایوي خدماتو / د بهرنیو خدماتو لوړ*

*پوړې چارواکي منظوري ترلاسه کړي. تاسو باید د امریکا حکومت هغه کارمند سره په مستقیم ډول اړیکه ونیسئ او ترینه غوښتنه وکړئ چې تاسو د P-1 پروګرام ته راجع کړي. که څه هم د هغو افغانانو لپاره چې په افغانستان کې پاتې دي د P-1 ارجاع ترسره کیدی شي، خو د قضیې پروسس (طی مراحل) نشي پیل کیدی تر هغه چې تاسو افغانستان پریږدئ او بل هیواد ته لاړ شئ.*

**د پورتنیو پروګرامونو درخواست کونکو(متقاضیانو) لپاره معلومات کوم چې له افغانستان څخه وتلي دي**

که د متحده ایالاتو د مهاجرینو د قبولی پروګرام (**USRAP**) د متحده ایالاتو د یوې دولتي اداري، د متحده ایالاتو میشته غیردولتي موسسو، یا په متحده ایالاتو کې میشته رسنیو سازمان څخه بشپړ او د شرایطو سره برابر د ارجاع درخواست ترلاسه کړي، د متحده ایالاتو د مهاجرینو د قبولی پروګرام (**USRAP**) به تاسو ته په مستقیم ډول د noreply@wrapsnet.org ) یا (usrapprod@servicenowservices.com ) څخه بریښنالیک واستوي. مهرباني وکړئ پورتنی بریښنالیک (ایمیل آدرس) اعتباری او پژندل شوی ایمیل آدرس وګڼئ او د دې تل د خپل سپیم فولډر(spam folder) وګورئ چې هلته نه وي درغلي:

په دې بریښنالیک کې تفصیلي لارښوونې شتون لري چې څنګه د افغانستان څخه بهر ستاسو د موقعیت په اړه موږ ته خبر راکړئ. کله چې تاسو دا لارښوونې بشپړې کړئ، ستاسو قضیه به د طی مراحل کولو لپاره د میشته کیدو ملاتړ مرکز (RSC) ته واستول شي کوم چې د متحده ایالاتو په مالي مرسته په نورو هیوادونو کې جوړ شوي ده. موږ به تاسو ته یوازې د noreply@wrapsnet.org یا usrapprod@servicenowservices.com څخه بریښنالیک واستوو. لطفاً خپل معلومات شکمنو بریښنالیکونو ته مه استوئ.

<u>یادونه: د ۲۰۲۲ کال تر دسمبر میاشتي پورې، موږ ځیني غوښتونکو ته چې ارجاع یې منل شوي، بیا بریښنالیک لیږل پیل کړي چې دریم هیواد ته یې نقل مکان ندي کړي. یاد بریښنالیک له غوښتونکو څخه غواړي چې د خپأ موقعیت د یوې بلې فورمې له لارې تایید کړي. د بهرنیو چارو وزارت د متحده ایالاتو د حکومت د روانو هڅو د یوې برخې په توګه له درخواست کوونکو سره اړیکه نیسي ترڅو زیانمنونکي افغانان داسې یو ځای ته احتمالا انتقال کړي چیرې چې د هغوی مهاجرتي د درخواستونو اجراء یا طي مراحل شوني اوسي.</u>

که تاسو باور لرئ چې تاسو راجع شوي یاست مګر د noreply@wrapsnet.org یا usrapprod@servicenowservices.com څخه تاییدي مو نه ده ترلاسه کړی، ډیر دلیلونه شتون لري چې ولې مو تاییدي نه ده ترلاسه کړې، د مثال په توګه:

- تاسو USRAP ته راجع شوي نه یاست
- ستاسو د ارجاع کوونکي اداري تراوسه موږ ته ستاسو کیس ارجاع نه ده سپارلې
- موږ ستاسو د راجع کوونکي څخه اضافي معلومات په تمه یو
- تاسو سره د تماس لپاره ستاسو راجع کوونکي په فورمه کې ستاسو یو فعال او صحیح ایمیل آدرس درج کړی نده
- ستاسو د ارجاع کوونکي اداره ممکن د P-2 پروګرام لپاره د ارجاع لازم شرایط نه پوره کوي
- موږ تر اوسه ستاسو ارجاع شوي اسناد تر اوسه مرور او بررسی کړي نه دي.

لطفاً خپل راجع کوونکي شخص / راجع کونکي سازمان سره اړیکه ونیسئ که تاسو د خپل د ارجاع د پرمختګ یا حالت په اړه اندیښمن یاست.

که ستاسو ارجاع د متحده ایالاتو د حکومت اداري یا د متحده ایالاتو میشته سازمان څخه اقدام ته اړتیا ولري چې ستاسو د ارجاع اسناد یې سپارلي، یا که ستاسو ارجاع د وړ راجع کوونکي څخه نه وي سپارل شوي، یا یاد راجع کوونکی د پروګرام وړ شرایط نه پوره کوي، تاسو سره د USRAP لخوا اړیکه نه نیول کیږي. شخص یا فرد نشي کولای پخپله خپل ځان یاد پروګرامونو ته راجع کړي.

**لطفاً په پام کې ونیسئ:** متحده ایالات نشي کولی ستاسو څخه محافظت یا ملاتړ وکړي پداسي حال کې چې تاسو د خپلې د کډوالۍ قضیې په اړه پریکړې ته انتظار باسئ. که تاسو په افغانستان کې ځورول کیږئ یا د ځوروني څخه ویره لرئ او بل هیواد ته کډه شوي یاست، تاسو باید د هغه هیواد له حکومت سره د کډوال په توګه چې تاسو یې یاست، د نړیوال خوندیتوب او مرستې لپاره د راجستر کولو طرزالعملونه تعقیب کړئ. تاسو هم د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنرۍ (UNHCR) سره ځان راجستر کولی شئ او ور څخه مرسته وغواړئ. نور معلومات په [https://help.unhcr.org](https://help.unhcr.org) کې موندل کیدی شي.

د قضیې پروسس کول (طی مراحل) کیدای شي اوږد وي (احتمالاً ۱۲-۱۸ میاشتې)، نو لطفاً خبر اوسئ چې دا پروسه کیدای شي د پام وړ وخت لپاره په دریم هیواد کې د خپل ځان او ستاسو کورنۍ سره ژوند کولو او ملاتړ ته اړتیا ولري ترڅو د قضیې پروسس بشپړ شي. حتی که تاسو د P-1 یا P-2 پروګرام لپاره وړ یاست او له افغانستان څخه بهر سفر کوئ، هیڅ تضمین شتون نلري چې تاسو به متحده ایالاتو ته د بیا میشتیدنې لپاره قبول شئ. ټول درخواست کوونکي باید د پراخ امنیتي بررسی ګانو څخه تیر شي او د کورنۍ چارو وزارت / د متحده ایالاتو د تابعیت او مهاجرت خدماتو افسر سره مرکه بشپړه کړي. په پای کې، که تاسو د ځانګړي مهاجرت ویزې (SIV) پروګرام لپاره وړ یاست، تاسو **باید** د USRAP له طریقه د ارجاع په لټه کې **نه** یاست.